# ایا تاسو غمجن یاست؟ ایا تاسو یوازې احساس کوئ؟ موږ کولی شو ستاسو سره مرسته وکړو. وړیا او محرم.

**د ستونزو مدیریت پلس (PM+) - په ورځني ژوند کې د ډېر ځواک لپاره ستراتیژۍ.**



## د SPIRIT پروژه څه شی دی؟

**له 2023 کال راهیسې، د SPIRIT پروژه په څو کانتونونو کې د PM+ پروګرام وړاندې کوي. دا پروګرام د پناه غوښتونکو سره مرسته کوي چې خپل فشار (اُسترس) کم کړي او د ورځې په ژوند کې د لا ډېر توان او ځواک احساس وکړي. دغه پروژه د زوریخ د پوهنتون روغتون لخوا د سیمه‌ییزو شریکانو په مرسته عملي کېږي او د سویس د روغتیا د ودې بنسټ (GFCH) مالي ملاتړ کوي. موخه یې دا ده چې اغېزمنو کسانو ته سمدستي، په خپله مورنۍ ژبه، مرسته وړاندې شي – په هغه وخت کې چې ورته اړتیا لري.**

## څه به درته په تمه وي؟

- **5 حضوري غونډې، هره یوه 90 دقیقې.**
  تاسو له یوه روزل شوي کس سره ګورئ چې د PM+ پروګرام له تاسو سره پر مخ وړي.
- **په خپله ژبه.** دا کس ستاسو په ژبه خبرې کوي او له شرایطو مو خبر دی.
- **وړیا.** ګډون په PM+ کې هېڅ لګښت نه لري.
- **اختیاري.** هر وخت چې وغواړئ، ګډون بندولی شئ.

USZ Universitäts Spital Zürich

SPIRIT
SCALING UP PSYCHOLOGICAL INTERVENTIONS IN REFUGEES IN SWITZERLAND

Gesundheitsförderung Schweiz
Promotion Santé Suisse
Promozione Salute Svizzera

## څوک ګډون کولای شي؟

- پناه غوښتونکي د 16 کلونو څخه پورته.
- هغه کسان چې د استوګنې کارتونه B، S، F، N لري او د هغوی د کورنۍ غړي.
- د SPIRIT د کانټونونو اوسېدونکي: بازل-شتات، بازل-لاند، برن، لوتسرن، شویځ، تورګاو، واد، زوریخ (د 2025 د سپتمبر حالت).

## دا روزنه تاسو ته څنګه مرسته درکوي؟

- زده کوئ چې له فشار، اضطراب او ستونزو سره څنګه ښه چلند وکړئ.
- د ورځې په ژوند کې به د ډېرې خوندي‌توب احساس وکړئ.
- زده کوئ چې څنګه ښه ویده شئ او له منفي احساساتو سره مقابله وکړئ.
- له یوه داسې کس سره خبرې کوئ چې ستاسو په څېر ورته تجربې لرلي.

دا روزنه د روغتیا نړیوال سازمان (WHO) لخوا جوړه شوې او ډېرو کسانو ته یې مرسته کړې ده.

د PM+ ژبې (د SPIRIT د کانټون پورې تړلې):
عربي، آلماني، انګلیسي، فرانسوي، کُردي، پښتو، روسي، تامیلي، تیګرینیایي، ترکي، اوکرایني او فارسي/دري

تاسو یوازې نه یاست - راځئ چې لومړی ګام په ګډه واخلو.

**تاسو دلته نوم لیکنه کولی شئ:**

/spirit-network.ch/registration

وروسته له دې چې تاسو نوم لیکنه وکړئ، موږ به وګورو چې ایا روزنه ستاسو لپاره مناسبه ده. پدې کې ستاسو په ژبه کې د څو پوښتنلیکونو ډکول شامل دي.

## مهم ټکي:

ستاسو معلومات پټ ساتل کېږي او هېچا ته نه ورکول کېږي.
تاسو به د ګډون یو تأیید ترلاسه کړئ.
که د 5 غونډو وروسته هم فشار یا ستونزه لرئ، موږ به تاسو ته د مسلکي روان‌درملنې لپاره یو سپارښت لیک درکړو.

موږ له تاسو سره د لیدو په تمه یو!

## اړیکه:

spirit@usz.ch | SPIRIT Universitätsspital Zürich
+41 76 326 5180 +41767844624